# ارګ پاڼه

اتمه ګڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

صاحب امتیاز:
د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنیو مرکز
د اړیکې شمېره:
+93 (0) 202100633
ایمیل:
info@gmic.gov.af
آدرس:
مرمرینه ماڼۍ، بهرنیو چارو وزارت
ته مخامخ، کابل - افغانستان

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نیټه: جمادي الثاني ۲۷، کال ۱۴۴۳ هجري قمري




**اسلامي امارت ټول هغه شرائط بشپړ کړي، چې د یو نظام د مشروعیت له پاره کافي او مهم دي. هېوادونه باید جرئت وکړي او اسلامي امارت په رسمیت وپېژني او په ټوله کې د افغانانو سره مرستې وکړي.**

د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء
محترم ملا محمد حسن اخوند

## معاون رئیس الوزراء با رئیس کمیته جهانی صلیب سرخ دیدار کرد

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا. با آقای ایلیو فیلون رئیس کمیتهٔ جهانی صلیب سرخ در افغانستان (آی‌سی آرسی)، دیدار کرد.
آقای فیلیون راجع به کارکرد های بقیه ۵

**ملګري ملتونه د افغانستان د اقتصاد د احیاء کولو او د اقتصادي ستونزو د حل لپاره کار کوي.**

دیبرا لاینز، د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې

**افغانستان سږ کال د مرکزي اسیا له درې هېوادونو سره د ۳۳ میلیونه ډالرو په ارزښت صادرات درلودل.**

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګه‌ونې خونه

**مور په افغانستان کې د ښځو د حقوقو په اړه د بشر د حقوقو د څار سازمان اندیښنه بې ځایه بولو. وروسته له هغه چې اسلامي امارت حاکم شوی په افغانستان کې د خلکو ټول حقوق خوندي شوي دي. دا ډول راپورونه دهغو ناسمو معلوماتو په اساس خپرېږي چې ځینې دښمني کړې یې د پروپاګند په ډول خپروي.**

محترم ذبیح الله مجاهد، د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال او د ا.ا.ا. ویندوی

## افغان مېرمنې د پیسو ازادولو او د اسلامي امارت د رسمیت پېژندلو غوښتونکې شوې

په کابل کې ګڼ شمېر افغان مېرمنو د افغانستان د کنګل شویو پیسو د ازادولو او د اسلامي امارت د رسمیت پېژندلو په اعتراض کې لاریون وکړ.
د دغو مېرمنو په وینا، کنګل شوې پیسې د افغانستان د خلکو حق دی او باید ازادې شي.
دغو مېرمنو د یوه پرېکړه لیک په صادرولو سره له نړۍوالې ټولنې او د روغتیا نړۍوال سازمانه هم غواړي چې افغانستان په اوسني وضعیت کې پاتې برخه ۶

## هیأت بلند پایه امارت اسلامی طی سفر رسمی عازم ناروی شد



یک هیأت بلند پایه امارت اسلامی به رهبری محترم امیرخان متقی، سرپرست وزارت خارجه رهسپار اسلو پایتخت ناروی شد. محترم امیرخان متقی در این سفر سه روزه با مقام های ناروی، کشورهای عضو اتحادیه اروپا، ایالات متحده امریکا، نماینده گان شماری از کشورهای عربی، اعضای جامعه مدنی و نیز با برخی از سیاست گران افغانستان و افغانان دیگر دیدار کرد.
سرپرست وزارت خارجه هدف از این پاتې برخه ۶

## ملګرو ملتونو سازمان: له افغانستان سره د اته میلیارد ډالر مرستو غوښتونکی شو

د اسلامي امارت له حاکمیته وروسته، افغانستان د لومړي ځل لپاره د ((اقتصادي کنفرانس)) تر عنوان لاندې یوې لویې غونډې کوربه وو.
په دې غونډه کې د افغانستان اسلامي امارت رییس الوزراء له خپلو دوو مرستیالانو او د کابینې له غړو سره یو ځای د ملګرو ملتونو له استازې سربېره، په حضوري توګه د شلو هېوادونو او اته نړیوالو سازمانونو پاتې برخه ۲

## اروپايي ټولنه د ۲۶۸ میلیونه یورو په ارزښت پروژې پیلوي



اروپايي ټولنه وايي، په افغانستان کې یې د ۲۶۸.۳ میلیونه یورو په ارزښت پروژې پیلوي، څو د دې هېواد د اقتصادي او بشري وضعیت د خرابېدو مخه ونیسي.
اروپايي ټولنې په وروستیو کې اعلان وکړ چې، د افغانستان خراب اقتصادي وضعیت پاتې برخه ۲

## له مرکزي اسیا سره د افغانستان سوداګرۍ ډېره شوې



د سوداګرۍ او پانګه‌ونې خونې د معلوماتو له مخې، په روان هجري لمریز کال کې له مرکزي اسیا هېوادونو (تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان) سره د افغانستان سوداګریزه راکړه ورکړه ډېره شوې.
د سوداګرۍ او پانګه‌ونې خونه د دې مطلب په اړه زیاتوي، افغانستان سږ کال پاتې برخه ۲

## د کجکي بند د برېښنا د تولید ظرفیت به ۱۵۰ میګاواټو ته لوړ شي

د اسلامي امارت مسؤلین وایي، په دغه بند کې د برېښنا د تولید ظرفیت د لوړولو په موخه د کجکي برېښنا بند د بیارغونې چارې ۹۰ سلنه بشپړې شوې او د چارې په بشپړېدو سره به د دغه بند د برېښنا د تولید ظرفیت ۱۵۰ میګاواټو ته لوړ شي. دا مهال د کجکي بند پنځوس میګاواټه برېښنا تولیدوي او د دې بند د بیارغونې کار روان دی چې ظرفیت یې یو سل پنځوس میګاواټو ته لوړ شي. پاتې برخه ۵

## په کابل کې د اروپايي ټولنې استازولۍ رسماً په کار پیل کړ

د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارتویاند عبدالقهار بلخي ویلي؛ اروپايي ټولنې د مرغومي پر دېرشمه په کابل کې رسماً خپل سفارت د دایمي حضور په موخه پرانیست او خپلې هڅې یې پیل کړې.
د بهرنیو چارو وزارت ویاند ویلې پاتې برخه ۵

**زموږ لید لوری په اوږد مهال کې د افغانستان خود کفايي ده او خود کفايي ته د رسېدو یواځینۍ لاره د خصوصي سکتور د ملاتړ او سیمه ییزې همکارۍ ترڅنګ، د کرنې، کانونو او ترانزیت په برخه کې پانګونه ده او اسلامي امارت ژمن دی چې پانګوالو ته د اړتیا وړ سهولتونه رامنځته او ډاډمن امنیت دوی ته تأمین کړي.**

د ا.ا.ا. د ریاسة الوزراء مرستیال محترم
ملا عبدالغني برادر اخوند

## د اقتصادي کمیسیون غونډه ترسره شوه

د ریاست الوزراء مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ د اقتصادي کمیسیون غونډه ترسره شوه.
په دې غونډه کې د میوند بانک د تعاملاتو ښه کېدو او پیاوړتیا، په فابریکو کې د سیخ ګول وضعیت، د هېواد په بندرونو کې د نفتي موادو د ازموینې لابراتوارونو عصري کولو او د البدر صنعتي کمپلکس د خنډونو په اړه بحث وشو.
په یاده غونډه کې پرېکړه وشوه پاتې برخه ۲

## استخبارات: رسنۍ دې د بې بنسټه خبرونو او افواهاتو له خپرولو ډډه وکړي

د افغانستان اسلامي امارت د استخباراتو عمومي ریاست له رسنیو وغوښتل، چې د بې بنسټه خبرونو او افواهاتو له خپرولو دې ډډه وکړي.
دغه ریاست ویلي، چې یو شمېر خپرې د بهرني تابعیت د ترلاسه کولو لپاره ملي او اسلامي ارزښتونو ته سپکاوی کوي. پاتې برخه ۵

**لنډ مهالي مرستې ملت ته ګټورې نه دي، موږ باید په ګډه کار وکړو او داسې لارې چارې پیدا کړو ترڅو په هېواد کې اقتصادي ستونزې په بنسټیزه توګه حل شي.**

**د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخوند**

## رئیس عمومی اداره امور با مسئول نظارت از تطبیق قانون دفتر یوناما در کابل ملاقات کرد

محترم مولوی احمد جان احمدی رئیس عمومی اداره امور امارت اسلامی با خانم مونیکا مارتینز مسئول نظارت از تطبیق قانون دفتر یوناما در کابل ملاقات نمود. در این ملاقات هر دو جانب در مورد تطبیق قانون و مبارزه با فساد صحبت کردند.
محترم مولوی احمد جان احمدی رئیس عمومی اداره امور ضمن خوش آمدید به خانم مارتینز گفت که تطبیق قانون و از بین بردن فساد از جمله وجایب امارت اسلامی بوده و رهبری و منسوبین امارت اسلامی در خصوص تحقق این وجیبه متعهد اند.
رئیس عمومی اداره امور از نماینده یوناما خواست که صدای شهروندان ما را به جهانیان برساند. به گفته محترم مولوی احمد جان احمدی، پس از 40 سال یک نظام واحد در کشور حاکم شده و برای ما میراث های زیادی چون فساد، تولید مواد مخدر و معتادان باقی مانده است.
خانم مارتینز مسئول نظارت از تطبیق قانون دفتر یوناما در کابل گفت: ما اینجا هستیم تا مبارزه مشترک بر ضد فساد نماییم و کوشش داریم که فعالیت های خود را در کشور های اسلامی مطابق قوانین اسلامی عیار نمایم.
نماینده یوناما گفت که ما برای ادارات حکومت قبلی نیز استراتیژی مبارزه با فساد را تهیه نمودیم، اما به آن اندازه که توقع داشتیم عملی نشد. حالا وضعیت تغییر نموده و خواستیم بفهمیم که خواست امارت اسلامی از ما چیست.
ما در گزارش آینده خود این را میگنجانیم که امارت اسلامی یک نظام واحد بوده، جنگ ختم گردیده و امارت اسلامی از همین اکنون مبارزه خود را با فساد آغاز نموده است. اینکه تحمل امارت اسلامی به فساد صفر است، یک مثال خوب برای تمام دنیا بوده می تواند. #

پاتې برخه...

## م.م سازمان: له افغانستان سره د اته میلیار...

او په انلاین بڼه د څلوېښتو هېوادونو له استازو سره ګډون درلود.
په کابل کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې وایي، ملاتړو هېوادونو ته یې داسې طرحه وړاندې کړې چې له مخې به یې افغانستان سره اته میلیارده ډالر مرسته برابره شي.
له دې سره سم، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې وویل، ملګري ملتونه هڅه کوي؛ څو افغانستان ته د نغدو پیسو د لېږد بهیر دوام ولري او دغه بهیر به تر هغې دوام وکړي چې، د افغانستان بانکي سیستم بېرته بڼه شي.
اغلې دیبرا لاینز زیاته کړه: په ډسمبر میاشت کې موږ ۱۲۰ میلیونه ډالره افغانستان ته وارد کړل. په دې میاشت کې مو هم ۳۲ میلیونه ډالره وارد کړي. موږ هیله لرو چې دغه بهیر تر هغې دوام وکړي څو د افغانستان بانک او د نورو بانکونو سیستمونه په سمه توګه خپلې چارې مخته یوسي.
رییس الوزراء په دې غونډه کې وویل چې، له افغانستان سره لنډ مهالي مرستې ملت ته ګټورې نه دي او موږ باید په ګډه کار وکړو او داسې لارې چارې پیدا کړو ترڅو په هېواد کې اقتصادي ستونزې په بنسټیزه توګه حل شي.
د اسلامي امارت چارواکو په دې غونډه کې، د اسلامي امارت د عبوري اقتصاد په برخه کې خپل لیدلوری او ستراتېژي هم اعلان کړه. په دې ستراتېژۍ کې له نړۍوالو مرستو هرکلی شوی او زیاته شوې چې، د افغانستان اقتصاد باید پر نورو هېوادونو تکیه نه وي.
د ریاست الوزراء مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي وایي: د مرسته کوونکو سیاسي او غیر واقعي شرایط د منلو وړ نه دي موږ هېڅکله هغه تړون چې د اقتصادي وضعیت د کړکېچ لامل شي نه غواړو؛ هېڅکله نه غواړو د مرسته کوونکو د سیاسي شرطونو په ګرو کې د هېواد اقتصادي خپلواکي قرباني کړو.
د اسلامي امارت د عبوري اقتصاد په لیدلوري او ستراتېژۍ کې په راڼه توګه د خصوصي سکتور پر جوړېدو ټینګار شوی دی.
د رییس الوزراء مرستیال وایي، اسلامي امارت به د نړۍوالې ټولنې پر مرستو څارنه وکړي؛ څو دغه مرستې اړمنو او په ځانګړې توګه ښځو او ماشومانو ته ورسېږي.
د مالیې وزارت سرپرست محترم ملا هدایت الله بدري هم څرګندوي چې، افغانستان د بشري مرستو ترڅنګ، پراختیایي مرستو ته اړتیا لري.
په دې غونډه کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې همداراز ویلي چې، په ځینو برخو کې د تېرو شلو کلونو لاسته راوړنې په سیند لاهو شوي او دمګړۍ د افغانستان نږدې نیمایي خلک د بې وزلۍ تر کرښې لاندې شپې او ورځې تېروي او په وینا یې پر افغانستان د لګول شویو بندیزونو د لرې کولو لپاره د دوی هڅې دوام لري. #



## په اقتصادي کنفرانس کې ګډونوالو د محدودیتونو په لرې کولو ټینګار وکړ

د افغانستان اقتصادي کنفرانس چې د اسلامي امارت له حاکیمت وروسته د لومړي ځل لپاره په ارګ کې ترسره شو، ګډونوالو د محدودیتونو په لرې کولو، د افغانستان د پیسو په ازادولو، د اوسني نظام په رسمیت پېژندلو او افغانستان کې د نړیوالو په پانګونې ټینګار وکړ.
په دې کنفرانس کې، د اسلامي امارت له استازو سربېره، د ۸ نړیوالو سازمانونو او د ۲۰ هېوادونو استازو په حضوري او همدارنګه د ۴۰ هېوادونو استازو په آنلاین بڼه ګډون کړی وو.
په دې کنفرانس کې پر یو لړ اقتصادي، سیاسي، تجارتي او ټولنیزو مسایلو خبرې وشوې او پر لاندې موضوعاتو ټینګار وشو:
د ا.ا.ا.ا. مشرتابه پلاوی په کنفرانس کې د ټولو کورني او بهرني ګډونوالو څخه مننه او هرکلی وکړ او د ملګرو ملتونو څخه غوښته وکړه چې د افغانستان په اړه خپل مسئولیت په ادا کولو کې تاخیر ونکړي.
همدارنګه، د ا.ا.ا.ا. مشرتابه پلاوی وویل چې، د اسلامي امارت لید لوری په اوږد مهال کې د افغانستان خود کفایي ده او خود کفایي ته د رسېدو یواځینۍ لاره د خصوصي سکتور د ملاتړ او سیمه ییزې همکارۍ ترڅنګ، د کرنې، کانونو او ترانزیت په برخه کې پانګونه، د لویو او سیمه ییزو پروژو تطبیق او بانکونو سره نغدي مرسته ده.
په پای کې د اسلامي امارت مشرتابه پلاوي یو ځل بیا ټینګار وکړ چې اسلامي امارت د اقتصادي ستونزو د حل لپاره به مناسب پروګرامونه او تګلارې په کار واچوي. #

**کرنه او کانونه د اسلامي امارت د لید لوري په لومړیتوبونو کې قرار لري او موږ هڅه کوو چې په هېواد کې کرنیز سیستم عصري او د کانونو او برېښنا په سکتور کې پانګونه جذب کړو.**

**د ا.ا.ا.ا. د ریاسة الوزراء مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند**

## ملګري ملتونه له افغانستان سره د بشرپاله مرستو پرېکړه‌لیک تصویب کړ

د ملګرو ملتونو امنیت شورا افغانستان ته د بشرپاله مرستو په برخه کې د اسانتیا رامنځته کېدو یو پرېکړه‌لیک تصویب کړی دی. د دې پرېکړه‌لیک پر بنسټ، د ملګرو ملتونو سازمانونو تر څنګ ۱۶۰ نړیوال بنسټونه ته اجازه ورکړل شوه چې له دې وروسته نغدې پیسې، لومړني روغتیایي او مالي توکي افغانستان ته راولېږدوي.
په ملګرو ملتونو کې د امریکا د دایمي استازولۍ د سیاسي چارو سلاکار جفري دلاورنټېس وایي: موږ ډاډمن یوو چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو بشرپاله مرستو همغږي له بل هر مهاله مهمه شوې ده. ملګري ملتونه به د افغانستان خلکو ملاتړ ته دوام ورکوي.
په ملګرو ملتونو کې د چین دایمي استازي زانګ ژون وایي: «بشرپاله مرستې یوازې بېړنۍ اړتیاوې حلوي، په داسې حال کې چې د افغانستان اقتصادي وده او پرمختیا بنسټیز حل ته اړتیا لري. نړیواله ټولنه باید له اسلامي امارت سره په اړیکه کې واوسي او پر لګول شویو بندیزونو باندې له سره کتنه وکړي.
اسلامي امارت د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له دې پرېکړې د ستاینې تر څنګ افغانستان ته د دې مرستو د ژر تر ژره پیلېدو غوښتونکي دي او ټینګار کوي چې دا بهیر باید له قید او شرط پرته پیل شي. #

**د افغانستان اسلامي امارت توانېدلی ترڅو فساد له منځه یوسي او په ټول هېواد کې ډاډمن امنیت ټینګ کړي.**

**د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخوند**

## اروپايي ټولنه د ۲٦۸ مېلیونه یورو ...

د اندېښنې وړ دی او ویلي یې دي چې د دغو پروژو موخه د افغانستان له خلکو سره نېغ په نېغه مرسته کول دي چې له روان ناوړه اقتصادي وضعیت څخه را ووځي.
د دې ټولنې په وینا، دغه مرستې به په افغانستان کې د کډوالو او داخلي بې ځایه شویو په ګډون د ټولو خلکو په زده کړه، روغتیا، ژوندانه او د روغتیا په خوندیتوب تمرکز وکړي.
جوتا یوروپیلین، داروپايي ټولنې د نړیوال مشارکت کمېشنرې وویل: «هغه څه چې موږ څو ځله ویلي، اوس یې تر سره کوو. موږ به هیڅکله افغانستان په خپل حال پرېنږدو. د خلکو یوازې نه پرېښودل د اروپايي ټولنې یو له مهمو اصولو څخه دی. #

**ملګري ملتونه نړیوالو ته د انتقالي چهارچوب په نامه یو سند ورکړی، چې له مخې به ۸ میلیارده ډالر افغانستان ته راشي، تر څو د افغانستان اقتصاد بیرته عادي حالت ته راوګرځي.**

دیبرا لاینز، د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې

## له مرکزي اسیا سره د افغانستان سوداګرۍ...



د مرکزي اسیا له درې هېوادونو سره د ۳۳ میلیونه ډالرو په ارزښت صادرات درلودل.
د سوداګرۍ او پانګه‌ونې خونې سرپرست محمد یونس مومند وایي: سږ کال له مرکزي اسیا څخه زموږ واردات له دوه میلیارډ ډالرو څخه زیات و.
د مالیې وزارت ویاند احمد ولي حقمل وایي: د اسلامي امارت له راتګ وروسته، له مالونو ډک له اته زرو ډېر موټر له مرکزي اسیا څخه سویلي اسیا او سویلي اسیا نه مرکزي اسیا ته د افغانستان له خاورې تللي او راغلي چې موږ ترې ګڼ شمېر عاید تر لاسه کړي. #

## د اقتصادي کمیسیون غونډه...

چې کندهار او هلمند ولایتونو ته د کجکي بند د برېښنا لېږد لپاره الکترونیکي تجهیزات په عاجل ډول ژر تر ژره وپېرل شي. د یادونې ده چې په کجکي بند کې کار په شدت جریان لري او په راتلونکي وري میاشت کې به د کجکي برېښنا بند د تولید ظرفیت ۱۵۰میګا واټو ته ارتقا وکړي. #

**په کجکي بند کې کار په شدت جریان لري او د چارې په بشپړېدو سره به د دغه بند د برېښنا د تولید ظرفیت ۱۵۰ میګا واټو ته لوړ شي.**

## نشست سازمان ملل درباره افغانستان؛ لاینز بر ادامه تعامل تأکید کرد

شورای امنیت سازمان ملل متحد نشستی را درباره افغانستان برگزار کرد و در آن شرکت کننده‌گان روی اوضاع سیاسی، امنیتی و اقتصادی افغانستان گفت‌وگو کردند. دیبرا لاینز، نماینده ویژه دبیرکل سازمان ملل در افغانستان، به شرکت کننده‌گان این نشست درباره وضعیت افغانستان گزارش داد.
لاینز با ابراز نگرانی از بحران بشری پیش‌بینی شده در افغانستان گفت که کشورهای جهان باید کمک‌های بشردوستانه بیشتر به افغانستان فراهم سازد. به گفته او، رها کردن افغان‌ها در اوضاع کنونی یک اشتباه تاریخی خواهد بود.
به گفته لاینز، امارت اسلامی به دنبال شناخته شدن از سوی جامعه جهانی است و تلاش دارد تعامل‌اش را با جامعه جهانی گسترش دهد. به گفته او، امارت اسلامی اقداماتی را در راستایی حکومت‌داری خوب برداشته است.
نماینده ویژه دبیرکل سازمان در افغانستان همچنان افزود که امنیت در کشور نسبت به سال‌های گذشته بهبود چشمگیر داشته است.
لاینز همچنان با اشاره به وضعیت اقتصادی افغانستان گفت که بحران بشری پیش‌بینی شده در این کشور قابل جلوگیری است و از کشورها خواست که کمک‌های بشردوستانه شان را به افغانستان افزایش بدهند.
به گفته او، تحریم‌های مالی سبب فلج شدن سیستم بانک‌داری و سقوط چهل درصدی تولیدات ناخالص افغانستان شده است.
لاینز از کشورهای جهان خواست که با فراهم سازی کمک‌های بیشتر، از وخیم‌تر شدن وضعیت در افغانستان جلوگیری کنند. او با اشاره به نشست‌های منطقه‌یی اخیر در باره افغانستان افزود که کشورهای منطقه به دنبال ثبات در افغانستان استند و رسیدن به این هدف نیاز به تعامل جهان با افغانستان دارد. #

**د افغانستان د پیسو کنګل ساتل د دې لامل شوي ترڅو په هېواد کې اقتصادي وضعیت خراب او هېوادوال له راز راز ننګونو سره مخ شي.**

د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخوند

**په افغانستان کې خصوصي سکتور خپل ځانګړی حیثیت لري که چیرې خصوصي سکتور پیاوړی شي نو تر ډېره حده به د افغانستان اقتصادي ستونزه حل شي.**

د ا.ا.ا. د ریاسة الوزراء مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

**هڅه روانه ده ترڅو د سیمې هېوادونو او نړیوالې ټولنې سره په همغږۍ اقتصادي او زیربنایي پروژو د تطبیق چارې بېرته پیل کړو.**

د ا.ا.ا. د ریاسة الوزراء مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي

**سږ کال له مرکزي اسیا څخه زموږ واردات له دوه میلیارډ ډالرو څخه زیات و.**

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګه‌ونې خونه

## دیدار معاون رئیس الوزراء با سفیر جاپان

محترم مولوی عبدالکبیر معاون رئیس الوزراء ا.ا.ا. با تاکاشی اوکادا سفیر جاپان در افغانستان، در قصر سپیدار دیدار کرد.
در این دیدار، سفیر جاپان برگزاری موفقانه کنفرانس اقتصاد افغانستان را تبریک گفته و آن را فرصت مهم دانست، نیز عزم رهبری ا.ا.ا. برای خودکفایی اقتصادی را ستایش نمود. وی با یادآوری از اعلام کمکهای ۱۰۰ میلیون دالری جاپان گفت این کمک ها در عرصه‌های زراعت، معارف، آب آشامیدنی و حفظ الصحه به مصرف خواهد رسید.
محترم مولوی عبدالکبیر با ابراز امتنان از کمک‌های بشردوستانه جاپان، گفت: می‌خواهیم روابط حسنه و تاریخی خود با کشور جاپان را گسترش دهیم. معاون رئیس الوزراء از توزیع شفاف کمک‌های بشردوستانه به مستحقین اطمینان داد و خواهان کمک‌های بیشتر بشردوستانه آن کشور شد.
در پایان این دیدار، در خصوص بازگشایی هرچه زودتر سفارت جاپان در کابل نیز تبادل نظر صورت گرفت. #

**جاپان ۱۰۰ میلیون دالر با افغانستان در بخش های زراعت، معارف، تهیه آب آشامیدنی و حفظ الصحه کمک می کند.**

**د افغانستان او نړۍ تر منځ د نویو اړیکو باب پرانیستل شوی او افغانستان به له دې وروسته د نړۍ د تصادم پرځای د نړۍ پر نښلونکي مرکز بدل شي.**

د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي امیرخان متقي

**د اسلامي امارت له حاکمیت سره، مالي سیستم د پخوا په پرتله ډېر فعال شوی، د مالیاتو په راټولولو کې د فساد مخه نیول شوې او په ګمرکونو کې د عوایدو راټولولو بهیر په بشپړ ډول شفاف شوی دی.**

محترم ملا هدایت الله بدری د ا.ا.ا. د مالیې سرپرست وزیر

## په کابل کې د اروپایي ټولنې استازولی...

چې، له څو پرلپسې ناستو وروسته اروپايي ټولنې په کابل کې د دایمي حضور لپاره خپل سفارت پرانست او په رسمي ډول یې کار پیل کړ.
د عبدالقهار بلخي د څرګندونو له مخې؛ یادې ټولنې پر پخوانیو ۲۲۰ میلیون یورو سربېره د بشري مرستو ۲۶۸ میلیون نورې هغه هم اعلان کړې.
عبدالقهار بلخي وایي، چې د دې ځانګړې مرستې یوه برخه د ښوونکیو معاشونه دي، چې د اسلامي امارت لخوا یې تود هرکلی وشو. #

## استخبارات: رسنۍ دې د بې بنسټه خبرونو...

د یاد ریاست په خبرپاڼه کې راغلي: یو شمېر کړۍ غواړي د غربي تابعیت د ترلاسه کولو لپاره اسلامي او ملي ارزښتونو ته سپکاوی وکړي او پر امنیتي ځواکونو بې بنسټه تورونو لګولو غواړي، ترڅو د ځان لپاره کیس جوړ او بهر ته ولاړ شي.
د استخباراتو ریاست دا هم په ډاګه کړې، چې وروسته له دې مقدساتو او ارزښتونو ته سپکاوی د خلکو لپاره د زغم وړ ندی. #

## د کجکي بند د برېښنا د تولید ظرفیت به ۱۵۰ میګاواټو...

د اسلامي امارت مسؤلین وایي، د رییس الوزراء د مرستیال په مشرۍ د اقتصادي کمیسیون په ناسته کې پرېکړه وشوه، چې د کجکي برېښنا بند د غځولو لپاره دې لازمې اسانتیاوې ژر تر ژره برابرې شي.
د اسلامي امارت مرستیال ویندوی محترم بلال کریمي وویل: ”د کجکي بند لا هم تر کار لاندې دی. زموږ مالومات دادي چې ٪۹۰ کارونه یې بشپړ شوي، او موږ هیله لرو چې د دغه بند کار به ډېر ژر بشپړ شي.“
په همدې حال کې دکندهار ولایت یو شمیر اوسیدونکي د کجکي د بریښنا بند د ظرفیت د لوړیدو هرکلی کوي او په اسلامي امارت غږ کوي چې سویلي ولایتونو ته دوامداره بریښنا برابره کړي. #

**موږ د نړیوالې ټولنې له بېلابېلو بنسټونو سره کار کوو چې پر افغانستان بندیزونه لرې او افغانستان ته د بشري مرستو کچه لوړه شي.**

دیبرا لاینز، د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې

## معاون رئیس الوزراء با رئیس کمیته جهانی صلیب...

این سازمان در خصوص رسیده گی به قربانیان جنگ، عرضه خدمات صحی، آب و انرژی معلومات داده افزود: ما در هماهنگی با سره میاشت، فدراسیون بین المللی جمعیت هلال احمر و صلیب سرخ در افغانستان کار میکنیم و تلاش داریم تا سطح عرضه خدمات را به این کشور بیشتر سازیم.
وی همچنان افزود که (آی سی آر سی) با داشتن ۷ مرکز در افغانستان در خصوص رسیده گی به وضعیت معلولین تمرکز دارد.
محترم مولوی عبدالسلام حنفی ضمن تقدیر از کارکرد های آی سی آر سی در افغانستان و تدوام همکاری امارت اسلامی با این سازمان، از آنها خواست تا در بخش عرضه خدمات بشردوستانه ولسوالی های را که در اثر جنگ زیان بیشتر دیده اند، اولویت دهند. #

## بانک انکشاف آسیایی ۴۰۵ میلیون دالر به افغانستان کمک کرد



بانک توسعه آسیایی می‌گوید که این بانک یک بسته کمک مالی ۴۰۵ میلیون دالری را برای افغانستان تأیید کرده است و این پول در بخش‌های حمایت از امنیت غذایی، خدمات ضروری صحی و آموزش در کشور به مصرف خواهند رسید.
به گفته بانک انکشاف آسیایی، این پول به برنامه جهانی غذا، سازمان خوراک و زراعت سازمان ملل، صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل و برنامه انکشافی سازمان ملل داده می‌شود تا این نهادها با استفاده از میکانیزم‌هایی که دارند خدمات و کمک لازم را به مردم افغانستان فراهم سازند.
بربنیاد اعلامیه بانک انکشاف آسیایی، صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل ۲۰۰ میلیون دالر، برنامه جهانی غذا ۱۳۵ میلیون دالر، برنامه انکشافی سازمان ملل ۵ میلیون دالر و سازمان خوراک و زراعت سازمان ملل ۶۵ میلیون دالر دریافت خواهند کرد.
قرار است با استفاده از این پول، برای ۸۰۰ هزار نفر غذای اضطراری، برای ۳۹۰ هزار خانواده تجهیزات و ابزار کشاورزی، و برای حدود ۱۶۸ هزار تن در برنامه «غذا در برابر کار» زمینه کار فراهم شود.
بانک انکشاف آسیایی گفته است که این کمک بخشی از تلاش‌ها برای رسیده گی به وضعیت بشری در افغانستان است.#

**رسنۍ که واقعا په رېښتوني ډول خپل مسؤلیت ادا کړي هم به د بې ځایه افواهاتو مخه نیول شوې وي او هم به یې خلک له حقایقو خبر کړي وي،
ان شاءالله موږ به یې همکار پاتې شو او د خبر جوړولو په برخه کې به ورته ټول هغه امکانات مهیا کړو چې دوی ورته اړتیا لري.**

محترم قاري محمد یوسف احمدي د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | اتمه گڼه | د چاپ نېټه: جمادي الثاني ۲۷، کال ۱۴۴۳ هجري قمري

# ارګ پاڼه



د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

**صاحب امتياز:** د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنيو مرکز
**د اړيکي شمېره:** +93 (0) 202100633
**ايميل:** info@gmic.gov.af
**آدرس:** مرمرينه مانۍ، بهرنيو چارو وزارت ته مخامخ، کابل - افغانستان

## ذخاير ارزی افغانستان آزاد شود

دو عضو دموکرات و یک عضو جمهوری خواه مجلس نماینده گان ایالات متحده امریکا در نامه یی از رییس جمهور این کشور خواسته اند که برای جلوگیری از فاجعه بشری، ذخایر ارزی افغانستان را آزاد بسازد.
آنان می گویند که کمک برای مردم نیازمند افغانستان مسئولیت اخلاقی ایالات متحده است.
در بخشی از این نامه آمده است: زمانیکه آخرین سرباز امریکایی افغانستان را ترک کرد، ایالات متحده تعهد کرد که افغانستان را تنها نمی گذارد، امریکا باید به وعده خود پابند بماند و آنچه لازم است را انجام دهد.
امارت اسلامی از این تصمیم اعضای مجلس نماینده گان امریکا استقبال می کند و میگوید که از دارایی های منجمد شده افغانستان نباید همچون ابزار فشار کار گرفته شود.
در همین حال، شماری از آگاهان اقتصادی منجمد ساختن پول افغانستان را از سوی امریکا یک بهانه می دانند. #

**له ملګرو ملتونو او نړيوالو مرستندويه ادارو چې افغانانو ته د بشري مرستو او د معيشت پر برابرولو ټينګار کړی مننه او هرکلی کوو او د ملګرو ملتونو څخه غواړو چې د افغانستان په اړه خپل مسئوليت په ادا کولو کې تأخير ونکړي.**

د ا.ا.ا. د رياسة الوزراء مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

**په تېرو دوو لسيزو کې د افغانستان اقتصاد د بهرنيو په مرسته ولاړ وو، دا مرستې له يوې خوا مؤثريت يې نه درلود او له بل پلوه فساد ته يې لاره هواره کړې وه.**


د ا.ا.ا. د رياسة الوزراء مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حنفي

## افغان مېرمنې د پيسو ازادولو او د ا.ا د رسميت پېژندلو...

يوازې پرې نه ږدي. معترضه بصيره ديدار وايي: نړۍواله ټولنه بايد اسلامي امارت په رسميت وپېژني. امريکا بايد د افغانستان کنګل شوې پيسې ژر تر ژره ازادې کړي. نړۍواله ټولنه او د افغانستان ګاونډيان بايد د هېواد په چارو کې لاسوهنه ونه کړي.
حافظه اميري وايي: د افغانستان پيسې بايد ازادې شي، دا پيسې د افغانستان د خلکو دي. خلک په بد وضعيت کې دي. دغو مېرمنو په هېواد کې د اسلامي حجاب پر رعايتولو هم ټينګار وکړ.
معترضه فاطمه څرګندوي: موږ بايد د الله د رضا په خاطر حجاب وکړو ځکه چې په حجاب کې عزت دی.
دمګړۍ د افغانستان څه باندې ۹ مېلیارده ډالره شتمنۍ د نړۍوالو او په ځانګړې توګه د امريکا له لوري کنګل شوې دي. #

## هیأت بلند پایه امارت اسلامی به ناروی...

سفر را گسترش و تقویت روابط سیاسی و اقتصادی، جلب همکاری در بخشهای صحت، معارف و زراعت و همچنان افزایش میزان کمک های بشردوستانه برای مردم افغانستان خواند. وی همچنان افزود که در پرتو سیاست خارجی، امارت اسلامی مصمم به تامین و تقویت روابط مثبت و حسنه با کشور های منطقه و جهان است و تلاش دارد تا صدای ملت مظلوم افغانستان به گوش جهانیان رسانیده شود.
در جریان این سفر، هیأت امارت اسلامی با نماینده گان ویژه هشت کشور مشمول امریکا، بریتانیا، ناروی، آلمان، ایتالیا، قطر، فرانسه و اتحادیه اروپا، شماری از شخصیت های طرح کشور، اعضای جامعه مدنی، رئیس بخش آسیا و پاسیفیک کشور فرانسه و مسئول بخش آسیای جنوبی، نماینده خاص اتحادیه اروپا برای افغانستان، نماینده خاص کشور بریتانیا در امور افغانستان و پاکستان و مسئولین موسسات خیریه ناروی، در اسلو پایتخت ناروی دیدار نمود.
در این دیدار ها، ضمن بحث پیرامون آغاز فصل جدید روابط افغانستان با کشور های منطقه و جهان، تأمین و تقویت روابط سیاسی و اقتصادی، جلب کمک در بخش های صحت، معارف و زراعت، رفع محدودیت ها و افزایش میزان کمک های بشردوستانه با مردم افغانستان؛ بر دوام همکاری های اقتصادی و بشردوستانه تاکید ورزیدند.
هیأت امارت اسلامی این سفر سه روزه را مثبت تلقی نموده و تاکید ورزیدند که چنین سفر ها، زمینه تأمین و تقویت همکاری و هماهنگی میان افغانستان و کشور های جهان را فراهم خواهد ساخت. در اخیر، امارت اسلامی از حکومت شاهی ناروی بخاطر استقبال گرم، ایجاد فضای باور و زمینه سازی برای بحث و گفتگو پیرامون مسایل مهم و حیاتی در افغانستان، اظهار سپاس و قدردانی نمود. #



## کاسه بند کمال خان پر آب شد

مقام های محلی ولایت نیمروز می‌گویند که برای نخستین‌بار بند کمال خان پر آب شده است و آنان پس از پر آب شدن این بند، مقداری از آب آن را برای زمین‌های زراعتی و آب نوشیدنی روستا های اطراف شهر زرنج باز کرده اند.



به گفته مقام های محلی این ولایت، در حال حاضر آب این بند به کشور های همسایه نمی‌رود و تمرکز آنان رسانیدن آب به زمین‌های زارعین نیمروزی است.
بر بنیاد آمارها، در حال حاضر بیش از پنجاه میلیون متر مکعب آب در بند کمال خان ذخیره شده است و از مجموع سه مجرا تخلیه آب این بند، تنها یک مجرای آن باز شده است.
هم زمان با پر آب شدن بند کمال خان، مقام‌های امنیتی از تأمین امنیت این پروژه زیربنایی اطمینان می دهند.
باشنده زرنج از این اقدام مسئولین امارت اسلامی اظهار خرسندی می کنند. قابل ذکر است، طی سال های پسین به دلیل نبود آب کافی، زمین های زراعتی باشنده گان شهر زرنج خشک شده است. #

**نوی نظام د سيمې او نړۍ له هېوادونو سره د اړيکو پر جوړولو تمرکز کړی ترڅو نړيوالو ته د افغانستان ريښتينی انځور وړاندې شي.**

د ا.ا.ا. د بهرنيو چارو سرپرست وزير محترم مولوي اميرخان متقي

**موږ ژمن يو چې د مرکزي بانک ملاتړ وکړو.**

ډيبرا لاينز، د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې

**په هېواد کې ډاډمن امنيت تأمين دی او د پانګونې لپاره ډېره ښه زمينه برابره شوې ده.**

د افغانستان اسلامي امارت رئيس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخوند

**اتحادیه اروپا می گوید که به ارزش ۲٦٨ میلیون یورو، پروژه های متعددی را در بخش آموزش، صحت و معیشت در افغانستان تطبیق می کند.**

## د دې ګڼې انځور



### قلعه بالاحصار کابل

بالاحصار نام قلعه ای تاریخی است که بر فراز تپه ای در دامنه کوه شیر دروازه در جنوب شرق شهر کابل در قرن پنجم میلادی ساخته شده است.
تیمور شاه که پایتخت افغانستان را از قندهار به کابل انتقال داد در بالا حصار کابل جاگزین شد و تا عصر سلطنت امیر عبدالرحمن خان پایتخت در همانجا بود.
بالاحصار به دلیل اهمیت استراتیژیک و قدامت تاریخی اش یک مکان با ارزش است.
این بنا در طول تاریخ شاهد جنگ های خونین بوده است. قلعه بالاحصار در جنگ اول افغان – انگلیس در سال ۱۸۳۹ تا ۱۸۴۲ و جنگ دوم افغان – انگلیس در سال ۱۸۷۸ تا ۱۸۸۰ به عنوان مرکز مهم جنگی استفاده میشد. حتی کودتای ۷ ثور سال ۱۳۵۷ بر ضد حکومت وقت از همین بنا آغاز گردید که در تاریخ بنام قیام بالاحصار مشهور است.
شاهان کابل در دوره های مختلف در بالاحصار اقامت گاه های مجللی داشتند، هرچند این بنا چندین بار بازسازی گردید اما به دلیل تشدید جنگ های داخلی اکنون به یک مخروبه مبدل گردیده است.
این قلعه از ابتدا به منظور اهداف استراتیژیک نظامی ساخته شد اما با گذر زمان اهمیت تاریخی پیدا کرد ولی ماهیت استفاده نظامی آن هیچگاه تغییر نکرد.
با حاکمیت امارت اسلامی، در نظر است این بنا با حفظ اصالت تاریخی آن بازسازی گردد.